## د شکلونو کټګورۍ

| | |
|---|---|
| درجه | دریمه درجه (عمر: ۱۱ څخه تر ۱۵ کلونو پورې) |
| د اړتیا وړ سرچینې | ورقه<br>پنسل |
| د پوښښ موضوع | شکلونه او اندازه ګیرۍ |
| په نخښه شوي مهارتونه | د مخروطي، کپسولي، او کروي شکلونو شیانو ځانګړتیاوې |
| الهام اخیستنه | Idea Galaxy Teacher |
| اړین وخت | د چمتو کولو لپاره ۵ دقیقې<br>د لوبې لپاره ۱۵ دقیقې |
| مخکینیو درسونو ته اړتیا | ۳ بعدي شکلونه او د هغوی ځانګړتیاوې |
| ملاتړ ته اړتیا | په ښکته کچه ملاتړ |

د لوبې قوانین:

| | |
|---|---|
| موخه | هر هغه لوبغاړی چې د لوبې په پای کې تر ټولو لوړې نمرې ترلاسه کړي، د لوبې ګټونکی شمیرل کیږي. |
| قوانین | د نمرو ورکولو طریقه:<br>د لوبغاړو ترمنځ د هر یو ورته ځواب لپاره، هر هغه لوبغاړي لپاره چې ورته ځواب لري یوه نمره ترلاسه کوي<br><br>د هر ځلا ځواب لپاره، لوبغاړی ۵ نمرې ترلاسه کوي. |
| مرحلې | لومړی مرحله: هر لوبغاړي ته ورقه او یو پنسل ورکړئ. (۳- ۶ لوبغاړي)<br><br>دوهمه مرحله: لوبغاړي په خپله ورقه باندې ۳ کالمونه رسم کوي.<br><br>دریمه مرحله: ښوونکی یا مشران کولی شي د اول کالم لپاره یو نوم په لوړ غږ سره ووایي. د بیلګې په توګه: کپسولونه<br><br>څلورمه مرحله: لوبغاړو ته باید یو معین وخت وټاکل شي (لکه د ۳ څخه تر ۴ دقیقو پورې). هغوی باید په دغه مشخص وخت کې څومره ډیر چې کولای شي د کپسول رقمه شکلونو شیانو نومونه ولیکي او د هغوی ځانګړتیاو هم ولیکي. د بیلګې په توګه: د همدغو شکلونو رأسونه او څنډې، د سطحې لپاره یې فارموله او داسې نور.<br><br>پینځمه مرحله: هر لوبغاړی خپل لیست شوي شیان د نمرې اخیستلو لپاره په لوړ غږ سره وایې او هغوی ته د نمرو ورکولو صفحې په مناسبت نمرې ورکول کیږي. د نمرو ورکووني صفحه تاسو کولی شی د قوانینو په برخه کې وګورئ.<br><br>شپږمه مرحله: دوهم پړاو پیل کیږي او ښوونکی او یا یو مشر د دوهم کالم عنوان په لوړ غږ سره وایي. د بیلګې په توګه: مخروطونه. همدا پروسه تر هغې دوام پیدا کوي ترڅو چې ټول شکلونه تر پوښښ لاندې ونیول شي. د کالمونو ترتیب اړین نه دی. البته لاندې درې شکلونه باید یکې په روښانه ډول لیست شي: (کپسولونه، مخروطونه، او کرې) |

| | |
|---|---|
| اوومه مرحله: کله چې ټول کالمونه بشپړ شول، ټولې نمرې سره جمع کیږي او بیا د لوبې ګټونکی اعلان کیږي. | |

| | |
|---|---|
| | |
| انځورونه | |

| کپسولونه | مخروطونه | کري |
|---|---|---|
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |

| | |
|---|---|
| 1. تاسو کولی شی یو بل کالم هم اضافه کړی. د بیلګې په توګه، مربع شکلونه او داسې نور | په لوبه کې بدلونونه |
| تاسو کولی شی دا لوبه د مختلفو عنوانونو د کالمونو سره ولیکئ. د بیلګې په توګه، د ۳ بعدي شکلونو پر ځای، لوبغاړي کولی شي د تخمین، مکاني ارزښت او د زاویو نومونه ولیکي. | غني کوونه |

| | |
|---|---|
| ساده کوونه | 1. د ۳ کالمونو پر ځای تاسو کولی شی دا لوبه د ۲ کالمونو لپاره ولوبوی. |